مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

احسان الله ارینزی ۲۰۱۷/۱۲/۰۵

د بابا هغه ارمان چې لمسي ته پاته شو!

ډېر کلونه مخکې مې د یوې سندرغاړې دا بدله اورېدلې وه چې ویل یې د انسانانو په ژوند کې ارمانونه دومره ډېر دي چې یو لا نه وي پوره شوی راشي نور!
په کال 1357 هـ ش کې زما اروابناد پلار چې د کابل ښاروالۍ درې دېرش کلن مامور و، د نوي نظام لخوا تقاعد ته سوق شو او ځای یې پرېښود خلقي بریتورو ملګرو ته!
زما پلار چې د خپل تقاعد له پاره لا مخکې تیاری نیولی و، په میاشت کې د ننه د کار ټول وسایل واخستل او په وردګو کې یې په هغه زمکه کار پیل کړ چې د کابل – کندهار د لویې لارې په دوه سل متری واټن کې پرته وه، خلکو چارکه بلله او نژدې شل کاله مخکې یې د همداسې یو وخت له پاره اخستې وه.
زما پلار په دریو – څلورو میاشتو کې د خپل ډنګر وجود نیمایي غوښه له لاسه ورکړه؛ خو د پنځو – شپږو نورو کسانو په مرسته یې، شپاړلس په څلور متره اوږده او پلنه کنده ویسته چې ژوروالی یې څلور متره و.
د دې کندې پاسني خوا ته د اوبو کوهي ووهل شو چې پریمانه اوبه یې درلودې، په منځ کې یو ډیزلي انجن کېښود، څنګ ته یې د ژرندې ماشین ولګاوه او هیله یې درلوده چې د شولو پاکولو او د شرشمو تېلو ماشینونه به هم ولګوي.
موږ تر دې کنده لاندې شل – پنځه ویشت جریبه ځمکه درلوده چې ټوله یو ځای پرته وه. پلار غوښتل چې په ټوله ځمکه دیوال وګرځوي، د کوهي اوبه حوض ته وباسي، د منو باغ جوړ کړي، پالیز ولري، لاندې خوا ته د چرګانو فارمګی جوړ کړي، د حوض څنګ ته د استوګنې او مېلمنو ځای ودان کړي چې ملګري یې راشي، د خدای عبادت وکړي، د زړه خواله وکړي، ټوکې ټکالې وي، کار وي او لنډه دا چې د خپل تقاعد وخت له پاره یو ښکلی مصروفیت ولري.
د خدای کړه و، د بنده ورته کاته وه. یوه ورځ موږ پاس د مېلمنو په غټه کوټه کې ناست وو چې په سړک د اردو یو لنډ کتار د غزني په لور تېر شو، د کتار په محاربوي ماشینونو، توپونو او لاریو باندې سرې جنډې رپېدې!
شل – پنځه ویشت دقیقې وروسته د توپونو درانه غږونه واورېدل شول. پوځ په (مورو) او (سنډور) کې د انقلابي دولت په وینا د اشرارو په مرکزونو ګولۍ وچلولې!
پلار ما ته وکتل او وې ویل چې سبا ځه کابل ته او تر هغه چې ما احوال نه وي درکړی، بیا مه راځه! لکه چې په سیمه کې د جګړې اور بلېدونکی دی!
پلار رښتیا ویل. زه له همغه ورځې بیا اوولس کاله خپل کور – کلي ته نه لاړم. په کلي او کلیوالو پسې ډېر خپه وم؛ خو هېڅ مې له لاسه نه کېدل او بس د زړه وینې مې خوړې.
د پلار هغه د هیلو او ارمانونو کار هم ژر بند شو. د شپې به مجاهدین ورتلل او کله نا کله به د ورځې د اردو سرتیري ورغلل چې غنم ورته اوړه کړي!
پلار فکر کاوه چې یوه ورځ به دلته سرتیري او مجاهدین سره مخامخ شي او هر پلو به دی ګرم بولي چې ګواکی بل لوری ته یې پټ خبر ورکړی!
خیر د خلقیانو وار تېر شو. د پرچمیانو او روسانو دوره هم پوره شوه او مجاهدین راغلل. پلار په پېښور کې مړ شو او د کلي – کور او هاغه باغ او کار ارمان یې ګور ته ویوړ!
د طالبانو په وخت کې زه له ډېره ځنډه وروسته وردګو ته لاړم. د مور او پلار فاتحه مو واخسته او سترګې مې بیا د رنګ کلي په لیدو خوږې شوې. سخته وچکالي وه او خلکو ډېرې ستونزې درلودې. درې کاله وروسته ما همغه د پلار نیمګړی کار بیا پیل کړ. ما هم د خپل تقاعد او (زړبودن) د وخت له پاره یو سالم مصروفیت ته اړتیا درلوده؛ خو ارمان چې ما هم دا کار بشپړ نه شوای کړای!
د حامد کرزي لومړي کلونه ښه د کار کلونه وو؛ خو زه په یو اداري مصروفیت کې دومره بوخت وم چې د پلار د پاته کار د دریېم پړاو د پیل او بشپړتابه له پاره مې ډېر وخت نه درلود.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

تر هغه چې زه برابريدم، په وردګو کې بيا جګړه توده شوې وه. دا ځلې طالبان او امريکايان سره ښکر په ښکر وو. په دې جګړه کې د کلي نيمايي خلکو بيا کورونه پرېښودل، اوبه لږ وي، په کرنه ګذاره نه کېده او له ځمکې او آسمانه اورونه وريدل!
دا دی اوس بيا نهم کال دی چې زه کور – کلي ته نه شم تللای. بيا يو ژور ټولنيز انقطاب منځ ته راغلی. په هغه سيمه کې چې ما بايد يو کار پيل کړی وای، نژدې هره ورځ جګړه وي. اردو، پوليس، امنيت، اربکيان، امريکايان، طالبان، ناټو، د تېلو سوداګر، امنيتي کمپنی او غله او داړه مار ټول سره ګډ دي او د خلکو ژوند يې په جهنم بدل کړی!
زه چې اوس فکر کوم داسې را ته ښکاري لکه د پلار ارمان چې د زوی په عمر کې هم پوره نه شي!
هغه غوښتل چې ژوند وکړي او د ژوند له پاره کار ولري؛ خو خونړي شرايط دومره ظالم وو چې حتی د وطن مړينه يې پرې پيرزو نه شوه. زه فکر کوم چې زما دا ارمان به هم پوره نه شي چې په خپل وطن کې د آبادی او پرمختګ يو وړوکی ګام پورته کړم او د ځان تر څنګ څو نورو کسانو ته هم د حلالې روزي د ګټلو ور پرانيزم!
زه اوسنيو شرايطو ته په کتو سره، په دې نه پوهېږم چې زما زامن به هم په دې بريالي شي او دا وخت ومومي چې هغه د بابا نيمګړی؛ خو ډېر انساني او شريف ارمان سرته ورسوي که نه؟
زه خو په دې تپه تياره کې د رڼا او اميد کومه کمکی ډيوه هم نه وينم چې ورته په تمه شم!! که تاسو بل ډول فکر کوئ، لطفاً ما هم خبر کړی!

هوله مالي، مالديپ
نومبر 2017 م
قوس 1396 هـ. ش

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ